
PROPERTY OF
ARIC
Established
1989

# دافغانانو



# د غم ورځی شپی

* دډاکتر نجیب وژل کیدو خلک هک پک کړل
* اسلامي جهاد که د روس او امریکې جنګ؟
* زمور جهاد او د پاکستاني پارټیو دریځ
* دافغاني مشرانو لنډه سوانح
* د پېښور او کابل ځینې دودونه دستورونه

عبدالباری «غیرت»

Ketabton.com

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# دافغانانو

# دغم ورځې شپې

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

**د کتاب پېژندنه:**

د کتاب نوم : د افغانانو د غم ورځې شپې

لیکوونکی : عبدالباري غیرت

کمپوز : مجیب الله

د چاپ کال : ۱۳۷۶ هـ ش

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

PROPERTY OF ACKU 7856

بسم الله الرحمن الرحيم

PROPERTY OF ARIC Established 1988

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# اهداء

د پښتونخوا مستقلو پرګنو ته

چې په فکري او عملي توګه يې

زمونږ د حق جهاد ملاتړ کړی دی.

ACKU

ARIC

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# د ډاکتر نجیب خور

محترمې ککې ته!

سلامونه درته لیږم او بیا دا چې د افغانستان پخوانی جمهور رئیس ډاکتر نجیب او د هغه د ورور احمد زي په وژل کیدو تسلیت درته وایم. زه پوهیږم چې خور او ورور څومره سره ګران وي او څومره د ژوند خوږې یې سره شریکې کړې وي بیا داسې مرګ چې ناڅاپي وي او په غیر عادي حالت کښې وي تا ته له لوی خدایه د زړه صبر غواړم خو ستا پاملرنه د افغانستان هغو شهیدانو ته هم را ګرځوم چې د کمونیستي نظام په وخت په لکهاوو بې له محاکمې اعدام شول، پولیګونونه پرې ډک شول. دوی به مېندې درلودې، خویندې او ورونه یې درلودل او زامن، لوڼې او پلرونه یې درلودل. دا وروستي خبرې بنایي ستا د آرام زړه تسلا شي.

ستا د ناآرام زړه له حالت څخه خبر یم او د هغو زړونو څخه هم خبر یم چې په کمونیستي دور کښې وځوریدل و دردیدل او ځینو د خپل محبوب په وژل کیدو د زړه سکته هم وکړه.



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

# د ډاکټر نجیب وژل کیدو
# خلک هک پک کړل

کله چې طالبان د کابل ښار ته د فاتحانو په توګه ننوتل او خپلو مخالفانو ته یې ماتې ورکړه. ددوی لومړی کار دا ؤ چې د ملګرو ملتو دفتر ته ورشي ډاکټر نجیب او د هغه ورور احمد زی را وباسی او په عام محضر کښې یې اعدام کړي. په دی کار سره خلک د یوه غیر منتظر کار سره مخامخ شول. جهاني مطبوعاتو دا عمل وغانده او له بشري عاطفې څخه یې لیرې وباله. د افغانستان ولس هم حیران شو، خو عجیبه ورته ونه برېښیده او دا کار یې په ځای وباله ځکه دوی د همدې خلکو بې حسابه ظلمونه لیدلي وو. حیران په دې شول چې د مخه آوازه وه چې ښایي ډاکتر نجیب یوه محفوظ ځای ته یوړل شي او بیا هر څه چې کیږي. د نجیب ملګرو په ټولو ځایونو کښې دا آوازه اچولې وه چې ښایي طالبان د نجیب سره ښه سلوک وکړي او ځینې مشوري ترې واخلي. د


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

افغانستان پوهانو او ليکوالانو دا عمل ښه ونه ګاڼه او ويې ويل چې دده دا وژنه بې وخته وه او دده د مرګ سره ډير حقايق او اسناد ، رازونه او رمزونه پټ پاتې شوا . له همدې کبله دوی دا وګڼله چې دا کار د يوه ګاونډ هيواد د جاسوسي شبکې له خوا شوی دی. نجيب ښايي علناً د محاکمې ميز ته بلل شوی وای او محاکمه پرې چليدلې وی. او له هغه وروسته دده اعدام هم خلکو ته قناعت ورکولی شول. د ډاکتر نجيب په اعدام د صوبه سرحد خلک ډير وپاريدل، مظاهرې يې وکړې ميټينګونه او جلوسونه يې وايستل ان تر دې چې دده د جنازې غائبانه لمونځ يې ادا ء کړ. دی يې شهيد وباله او ځينې طالبان يې بنديان کړل او ويې وهل. د نشنل پارټي مشرانو هم دا عمل وغانده او د ګاونډ هيواد لاس يې پکښې د خيل وګرځاوه.

« ليکوال » معروفې مجلې هم دده په وژل کيدو خپل تأثرات څرګند کړل او دايې يوه غميزه وګرځوله. او خاصه مجله يې دده په نوم چاپ کړه چه ددوی په نزد بيګناه او مظلوم ښودل شوی ؤ ( بشر نويد )ډيرې پيرزوينې ورته وړاندې کړې ان تر دې چې دده په قول ځينو لنګې والا کسانو حمله هم پرې کړې وه خو بچ شو .

د پردې تر شا هر څه وو ، وو ، دده وژونکې وايي چه کله ډاکتر نجيب د خاد جاسوسي شبکې رئيس ؤ د افغانستان ډير بې ګناه انسانان اعدام شول ، چې د وژونکو ورونه او خپلوان هم پکښې وو . بل استدلال يې دا ؤ چې په


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

کندهار باندې د همدې ډاکټر صاحب په دوران کې د اوزبک ملیشو له خوا حملې وشوې په کورونو تنوتل او ډېرې ښځې يې بې پته کړې.

همدا عمل په پکتیا کښې هم دده په دوران کښې د اوزبک ملیشو له خوا وشو چې د دوی وینه يې په ځوښ راوسته او نور يې طاقت و نشو چې محاکمې ته يې پرېږدي.

# د کمونیستانو قدرت ته رسیدل

زه نه پوهیږم چې دا داستان له کوم ځایه پیل کړم، کاشکې د دردمنو زړونو له حاله دا نور زړونه خبریدې او کاشکې خلکو یو د بل په غمونو او داستانونو باور درلودی.

ځمکه هغه سوځې چې اور پرې بل وي نو د سوځیدلې ځمکې د خلکو له حاله د بې سوزه ځمکې خلک نه خبرېږي. زمانه آخره شوې د قیامت نښانې دي هرڅوک د ظالم پلوي کوي او مظلوم نور هم په خوله خوله وهي.

داستان به په لنډ ډول پیل کړو دا چې څه وشول او اوس څه روان دي او بیا به څه کیږي دا ټول د ماضي حال او استقبال خبرې دي خو د ماضي او حال په خبرو به خلک هک پک شي.



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

زه د افغاني کمونیستانو (خلقیانو پرچمیانو) کردار یادوم او بیا چې روسان تیغ په تیغه راغلل او د نړۍ ټول انساني معیارونه یې تر پښو لاندې کړل، بیا هم بې سترګو خلکو ویل چې: روسانو ښه وکړل دوی حق درلود او دا د کمونیستي نظام د ټینګولو او د انسانیت او عدالت د راوستلو په خاطر وو. آفرین په دې منطق، په دې عقل او په دې وجدان او بالآخره په دې اسلامیت، زه په لنډه توګه څه ناڅه په هغه څه رڼا اچوم کوم چې په صویه سرحد کښې د سترګو لیدلي حال دي او پرته له کومې مبالغې به یې بیان کړم او بیا به قضاوت د لوستونکو مخې ته کښیږدم. د افغانستان خلک غولیدلي نه وو، هغوی با شعوره انسانان او هغوی هرڅه د منطق په تله کښې تللي شوي.

د کمونیستي نظام د راتګ سره سم په دې خلکو ناتار جوړ شو، کورونه یې بې امانه شول، مذهبي مراسم یې په ډاګه نشوای اجراء کولی، ناموسونه یې په زوره کمونیستي کورسونو ته بوتلل شول، په ډله ایزه توګه ووژل شول او په مړیو یې دښتې ډکې شوې، ښځې یې جیل ته ولویدې او په دې مظلومو افغانانو هرڅه وشول. د نمونې په توګه مولانا فیضاني صاحب تری تم او حضرت صاحب محمد ابراهیم مجددي د خپلو ۲۱ خپلوانو سره اعدام شو. همدا راز په زرګونو علماء، پوهان، استاذان او منورین په پولیګون کښې تر خاورو لاندې شول.

په دې حالت کښې خلکو د مجبوریت له مخې قیام وکړ راپورته شول او



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

په تېرونو او لرګيو يې جهاد پيل کړ بيا چه د دوی لاسې ته وسلې ورغلې دا بيله خبره ده. زه چې د داؤد خان په وخت کښې په ستره محکمه کښې څلور کاله د قضاء د مجلې مدير وم او بيا وروسته څه موده په کور شوم او بيا بيرته د فاميلي محکمې قضايي غړی شوم. هغه فجائع چه په محکمو کښې روان وو د ويلو نه دی، د ښځو سره د خلقي قاضيانو بد عملونه له ميړونو ښځه په زور سره طلاق اخيستل، د زوی په مخکښې د پلار سپکول او وهل دا هغه څه وو چې د دوی له جيلخانو ښخه بهر وو او ظاهراً په ديموکراتيکه قضاء کښې کيدل.

ما دا حالات په سترګو ليدل خو خوله مې خاموشه وه او د څه ليکلو توان هم نه ؤ ځکه چې نه د خولې آزادي وه او نه د قلم او په دې دواړو جرمونو هم خلک د اعدام څوکې ته ورسيدل.

**د هجرت لار:** کله چې ما دا حالت وليد چه نور نو د خلقيانو سره ګوزاره مشکله شوه زه هم تر تعقيب لاندې ونيول شوم او مشر ورور مې مولوی عبدالباقي چې د عربي دارالعلوم استاد اود شيرپور د جامع جومات خطيب ؤ، زنداني او بيا وروسته معلومه شوه چې شهيد شوی ؤ او له دې پرته د خلقيانو د لاسه وطن سور تنور ګرځيدلی ؤ ما هم د زرمت، پکتيا په لاره د هجرت لاره غوره کړه. دا هغه وخت ؤ چې نابغه استاد نور محمد تره کئ د افغانستان د کمونيستي نظام لومړی جمهور رئيس د وفادار شاګرد حفيظ الله امين له خوا


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ورن شوی و. زما ذهن دا ؤ چې د پاکستان د صوبه سرحد د خلکو به دا فکر وی چې ددوی تول وگړی به موږ ډیر ښه استقبال کړی او دا فکر به ورسره وی چې ددوی قیام یو اسلامی جهاد دی. ځکه چې یو خو د افغانستان پښتنو ددی ځای د پښتنو سره زیاتی اړیکی درلودی ددی ځای مشرانو ته لکه پاچا خان، ولیخان، اجمل ختک ته موږ په درنه سترگه کتل او میلمستیا گانی به مو ورکولی. همدا موږ پښتانه وو چې د دوی ملاتړ مو کاوه او د افغانستان حکومت په رسمی توگه د پښتونستان په نامه په کابل راډیو کښې یو ساعته خپرونی کولی. دوی ته اعلیحضرت ظاهرشاه په وړیا توگه کورونه ورکړی وو او ددوی د پاره د خوشحال او رحمان بابا د لیسو په نامه ښوونځی موجود وو. د افغانستان خلک به پوهنتون ته په کانکور سره داخلیدل خو ددوی د پاره دا کار مفت ؤ. ان تر دی چې د سرحداتو په نامه ددوی د پاره ځانگړی وزارت ؤ چې لومړی د قبائلو د مستقل ریاست په نامه یادیده او همدا راز د قبائلی خلکو د پاره جلا معاشونه او تنخواگانی وی.

برخلاف ددغو خلکو ذهنیت دا ؤ چې د افغانستان د خلکو جهاد اسلامی نه دی بلکه ورور وژنه او د ترور عمل دی. دوی داسی گڼله چې د خلقیانو حکومت یو قانونی حکومت دی عوامو منلی دی دا یو څو مهاجر کسان یې مخالف دی هغه هم په ذاتی (شخصی) اغراضو.

بلې دا چې دوی (خلقیان) یې کمونیستان او ملحد نه گڼل بلکه

ketabton.com - The Digital Library

مسلمانان يې ګڼل او زموږ دلاتلو ته يې غوږ نه نيوه.

بله دا چې عوام د ضياء الحق مخالف وو، ځکه دوی ويل چې دی د مارشل لا (نظامي) له لاري حکومت کوی او په زوره يې کوی او دغه مهاجرين (يا مجاهدين) يې د ضياء الحق عسکر ګڼل. په دی مورد کښې به دځينو ګوندونو (پارټيو) د فکر طرز بيان کړو.

## ۱- پيپل ګوند (پارټي):

دا ګوند چې مشر يې د پاکستان پخواني جمهور رئيس ذوالفقار علي بوټو ؤ او ذوالفقار علي بوټو هم د جنرال ضياء الحق د کودتا په ترڅ کښې له قدرته ولويد او بيا د ځينو تورونو په لړ کښې چې مهم يې ځيني قتلونه او ترورنه وو اعدام شو، له هغه وروسته ددی ګوند مشری دده د لور بي نظير بوټو په غاړه وه او له دی کبله چې دوی د ضياء الحق مخالف وو او ضياء الحق د افغان مهاجرينو ملاتړ کاوه نو دوی هم د افغانستان د جهاد مخالف وو. بي نظير بوټو عقيده درلوده چې ښايي د کودتا او زور له لاري څخه نه بلکه د ديموکراسي له لاری قدرت له جنرال ضياء الحق څخه واخيستل شي. بي نظير بوټو د افغانستان دجهاد مخالفت په صراحت سره نه کاوه بلکه تلويحاً او اشارتاً يې ځيني خبری کولی چې سړی پوهيده چې دا د افغانستان د مسئلي په



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

تیره د مجاهدینو او مهاجرینو مخالفه ده. کله چې به له دې شخصه په دې باب پوښتنه وشوه نو ویل به یې چې موږ په خپله داسې کشالې لرو چې د مهاجرینو موضوع ته هېڅ خلاص نه یو.

د ذوالفقار علي بوټو زامنو هر یوه شهنواز بوټو او مرتضی بوټو په خپل وار سره د ضیاء الحق د رژیم مخالفت کاوه، په غونډو جوړولو بر سیره ځینې د غچ شخصي کې کار روایي هم کولې چې بې نظیر بوټو بیا د دې کار مخالفه وه. یوه مهمه موضوع یې دا وه چې دوی پاکستاني الوتکه افغانستان ته وتښتوله او هلته یې د کابل په هوايي ډګر کې کوزه کړه. د دې الوتکې سپرلې چې ښځې ماشومان هم پکښې وو له زیاتې وار خطايي سره مخامخ شول او یو کس پاکستاني پکښې مړ هم شو. په دې کار سره دوی د ببرک د رژیم له خوا ښه استقبال شول ان تر دې چې دواړو ته یې د خارجه وزارت د یوه ډپلومات مأمور سید فصیح الدین لوراني د ریحانه او ( ... ) په نامه شهنواز بوټو او مرتضی بوټو ته ور کړې چې بیا کله شهنواز بوټو خود کشي وکړه، داسې وګڼل شوه چې دده ښځې زهر ور کړي دي په همدې اساس سره مرتضی بوټو هم خپله ښځه د کورنۍ د مشورې په اساس طلاقه کړه چې دا دواړه ښځې اوس په امریکې کښې اوسیږي.

دې کار د بې نظیر بوټو د افغانانو په مقابل کښې حساسیت نور هم زیات کړ په داسې حال کښې چې د دوی ورونه د کمونیستي مفکورې په اساس


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

شوی وو او دلته د مهاجرینو او مجاهدینو موضوع یو اسلامي بنیاد درلود.

د بی نظیر بوټو مخالفت له دې څخه څرګندولی شو چې کله دا صدراعظم (وزیراعظمه) شوه په ټولو داخلي او خارجي موضوعاتو یې رڼا واچوله خو د افغانستان کشاله او د مهاجرینو مسأله یې هیڅ یاده نکړه بیا د وحدت ورځپاڼې ګرځنده مشر پیرسپید شاه جګ شو او پوښتنه تری وکړه چې تا د افغانستان موضوع ولی یاده نکړه. بیا هم دې ځان تیر کړ، همدا راز ددې د صدارت په وخت کښې هغو دریو کسانو چې په پیښور کښې یې د یوه ښوونځي نجوني او هلکان اسلام آباد ته تښتولي وو، دا چې سعودی عربستان ته تللی وه د اسلام آباد په هوایی میدان کښې یې په دې باب ټول افغانان تر تهدید لاندې راوستل او تونده خبرې یې وکړې، خو کله چې دا درې کسان د پاکستان د کوماندو له خوا ووژل شول نو بینظیر بوټو بیا د ناصر باغ په کمپ باندې په ښځو باندې میتهایي وویشلې او نورې وعدې یې هم ورکړې خو دا وعدې یوه هم په ځای نشوه. بی نظیر بوټو په خپل یوه کتاب کښې (خاطرات بی نظیر بوټو) ویلي چې د صدر ضیاءالحق په وخت کښې کله چې ما وغوښتل دده په خلاف مسالمت آمیزه مظاهره وکړم نو زما ملګرو راته وویل چې هلته د ضیاءالحق پلویان (مجاهدین افغان) دې هسې نه چې تاته څه ضرر ورسوی، خو ما له دې تهدید سره سره په پیښور کښې مظاهره ترسره کړه او بیانیه مې هم ورکړه.

د بی نظیربوټو مور نصرت بوټو بیا د ضیاءالحق په وخت کې په اخباری



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

بیانونو کښې د افغان مهاجرینو او مجاهدینو په ښکاره توګه مخالفت کاوه هغوی یې د جنرال ضیاء الحق کسان بلل مفروران یې ګڼل او د دوی په ضد یې اخباری بیانونه ورکول داسې فکر کیږی چې نصرت بوټو افغان مسئلې ته په جنرال ضیاء الحق پوری تړاو ورکاوه او دده د فکر مولوده یې بلله، په داسې حال کښې چې دا مسئله ډیره ژوره او پراخه ابعاد یې درلودل البته جنرال ضیاء الحق په خپل وخت کښې د افغان مسألې په باب جدی پاملرنه درلوده او د افغانستان جنګ یې د پاکستان دفاع ګڼله، افغانان هسې په هوس نه وو راغلی بلکه د ډیر مجبوریت له مخې دغه ګرم پاکستان ته راغلی وو او دی ته به شنه ناست وو چې څه وخت به مو وطن آزادیږی.

## ۲- نشنل پارټی:

ددی ګوند مشر پاچا خان او بیا دده زوی ولیخان او اوس اجمل خټک یې مشری کوی. ددی ګوند نور د یاد وړ کسان بیګم نسیم ولیخان، حاجی عدیل، فرید طوفان، غلام احمد بلور دی.

اجمل خټک کله چې د ذوالفقار علی بوټو په دوران کې د لیاقت باغ پنډی په غونډه کښې څو کسان مړه شول وویل چې نور نو پاکستان د اوسیدو نه دی او افغانستان ته یې سیاسی پناه یوړه. دی د کابل د کمونستی رژیم پلوی ؤ او له کابل څخه به یې احوالونه رالیږل چې زه به د سری ډولی سره پاکستان



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ته ځم. خو د مجاهدینو د حکومت څخه څه مړه د مخه پاکستان ته راغلی او دلته د پارلمان غړی دی.

نشنل ګوند د اول څخه د افغان مجاهدینو مخالفت کړی دی او دا جنګ یې د امریکې او روس جنګ بللی دی.

په اخبارونو کښې به د ولیخان، نسیم ولی او نورو ضد ضد بیانونه راتلل او دې بیانونو د صوبه سرحد په عوامو باندې لوی اثر درلود همدا دلیل ؤ چې د صوبه سرحد زیاتره عوام د افغانستان د جهاد په حق کښې نه وو بلکه دوی به د ویل چې دا کسان د یوه قانونی حکومت څخه تښتیدلی دی په داسی حال کښې چه هلته د روسانو او داخلی کمونیستانو له خوا هرڅه د خاورو سره برابر شوی وو او دومره مظالم په افغان ولس وشول چې یو عاقل انسان یې نشی منلی. په دی مورد کښې د دوی تبلیغ ډیر پراخه او مؤثر ؤ. دوی به ویل چې د مجاهدینو او مهاجرینو د راتګ سره به په مورږ اقتصادی بوج راشی. د کلاشینکوف او هیروئین کلچر د دوی سره راغی. پاکستان یو غریب ملک دی بنا یی روسان د مجاهدینو له کبله په مورږ حمله وکړی او ددی ټولو ذمه واری جنرال ضیاء الحق ګڼلو.

* یوه ورځ زه چارسدې ته د ولیخان کور ته ورغلم چې د کور په مخ کښې یې پولیسو یوه خیمه هم درولی وه، له نوکرانو سره یې ما روغبړ وکړ یو ځوان هلک چې د شلو کلو به ؤ یوه بل ته وایی چې د مجاهدینو په نامه غله او داړه



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ماران راغلي له خپل حکومت څخه را تبنتیدلي غلاګاني کوي ډیر بد خلک دي.

د توپیک په یوه دز سره ډیري مرمۍ را باسي او ډیر خلک پرې وژلي شي. دا خبري په ما ډیري بدي ولګیدي خو کله چه ولیخان ته ورغلم زړه دوستي مې ورسره مطرح کړه ده وویل چه د جهاد پلوي نکوم ځکه دا جهاد نه دی ستاسو د یوه ملا زوی اتیا لکه کلداري بهر ته (سمګل) قاچاق کولی خو د مور د ګوند یوه غړي هغه په هوائي میدان کښي ونیو.

* پاچا خان به ویل چه دا مهاجرین چې راغلي دا په مور باندي بد اثر غورځولي شي، بنایي خپل ملک ته بیرته ولاړ شي هلته حالات سم دي خو کله چې روسانو تیغ په نیغه په افغانستان یرغل وکړ نو ده د بنو په یوه غونډه کښې وویل چې ای پښتنو بیدار او سېږئ تاسو ته دا دی سور استعمار (سامراج) راغلی او حالات یي بیخي بدل کړي. له دی وینا وروسته بیا دی په کور کینولی شو او نور څه یي و نه ویل ترڅو چې په حق ورسید.

* د حزب اسلامي یو غړي «ولید» ورد ګ وایي چې زه یوه ورځ لیډی ریډنګ روغتون (هسپتال) ته پاچا خان ته د مصاحبی د پاره ورغلی وم چې ماخبری ورسره پیل کولی بیګم نسیم ولی ډیره راته په قهر شوه او ویی ویل چې دا وخت د مصاحبی دی؟ او زه یي انترویو ته پرینښودم.


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

* يوه ورځ زه سوات ته روان وم چې په جهانګيره کې يو لوی جلوس (مظاهره) روانه ده موټر لږ څه ودريد او بيان ورکوونکي ويل: چه دا بيشرمه انسانان، دا بې فرهنګه او بې کلچره خلک چې راغلي دي دوی دي د مور له خاورې ووزي او مور د کابل قانوني او انساني حکومت تأييدوو.

* يوه ورځ زه شيرزمان غمجن (طائزی) ته ورغلی وم چې يو بل افغان مشهور ليکوال هم ورسره ناست ؤ ليکوال د جهاد موضوع ياده کړه چه غمجن صاحب ورته ډير په قهر شو او ويې ويل چې ستاسو جهاد نه دی او ما په دی باب د ډاکترۍ د پاره مدلل کتاب ليکلی چې دا دی نن سبا بشپړيږي نژدې ؤ چې هغه سړی په زوره له خوني وباسي، کله چې زه رخصت شوم نو موږي مشهور ليکوال راته وويل چې دا زما د بې عزتی خبره چاته و نکړی.

که څه هم د شيرزمان يو بل ورور (طائزی) له اول څخه د افغانستان د جهاد ملګری ؤ خو غمجن صاحب د خپلو فکري استدلالونو په بنا دا خبره نه تأييدوله غمجن صاحب په دی وخت کې په ملګرو ملتو دفتر کښې کار کاوه، او د ډيرو خاصو افغانانو سره يې کومک کړی دی چې دلته په پيښور کې يې ژوند په خطر کښې ؤ او بهرته يې ليږلي دي.

* زه به هميشه د لرو پښتنو په مشاعره کښې شامل وم کوم چې په خيبر بازار اردو ساينس بورډ کښې به کيدله. زه لومړی افغان شخص وم چې په دی مشاعره کښې مې اشتراک کاوه. بيا له ما وروسته پسرلی صاحب دده زامن هر يو



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

اسدالله، عصمت الله، محترم رفیع صاحب او نورو هم ګډون وکړ. په هغه وخت کښې به ما په خپلو شعرونو کښې د افغانانو بد حالت او د روسانو او داخلي کمونیستانو ظلمونه بیانول چې په ګډون کوونکو ښه نه لګیدل، البته یو دوه کسان لکه طائزی فریحان شیدا اطلس ګل زما ملګري وو. بیا به یې سره ویل چې خیر دی میلمه دی څه به نه ورته وایو. بیا ورو ورو رحالات بدل شول، مهاجرتونه زیات شول، روسان نور هم رسوا شول او ملګري می ډیر شول. له دوی څخه ځینو دومره ددې موضوع سره حساسیت درلود چې حتی د محترم پسرلی صاحب سره لاس او ګریوان شوي وو.

* یوه ورځ په چوک یادګار کښې د مهاجرو په ضد او د کابل د کمونیستانو په طرفداری مظاهره وه کله چې دوی وویل چې ( زنده باد ببرک کارمل) زموږ یو ملګري د محاذ غړی محمد اکرم وردګ ددوی په مخ کښې چیغې کړې چې (مرده باد ببرک کارمل) بیا یې دا شخص ښه ووډباوه او له غونډې څخه یې وویست.

د مجاهدینو په پاڅون سره نشنل پارتی دغه امتیازات له لاسه ورکړل:

۱- ددوی لویانو با قاعده/تنخواه (اعزازي) اخسته او یو څه به یې نورو ملکانو او خپلو پلویانو ته هم ورکوله. لکه چې سید مسعود پوهنیار وایې چې زه په پیښور کښې په قونسلګری کښې د پلومات وم د همدې پارتی لوی غړی ته به می په چرګانو چوک کښې دا تنخواه ورکوله او دده دلته کوټه وه.



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

۲- د پارټۍ مهمو غړو په جلال آباد ، کابل او نورو ځینو ښارو کښې ځمکې او حویلۍ ګانې درلودې چې له دې درکه یې کرایې هم اخستې.

۳- خوشحال خان او رحمان بابا لیسې اصلاً د دوی د پاره جوړې شوې وې او د ولیخان او نورو غړو په سپارش به په پوهنتون کښې بې کانکوره د دوی کسان شاملیدل او بیا به مسکو ته لیږل کیدل.

٤- د افغانستان د دولت په صوبه سرحد کښې ځینې ملکیتونه وو چې بیا د خلقیانو په وخت کښې د دوی کسانو نیولې وو او په کرایه یې ورکړې وو خو کله چې د مجاهدینو حکومت راغې نو افغان قونسل محمد ظاهر قره باغې دا دعوا وګټله.

۵- د افغانستان نیمه بودجه به د پښتونستان په لاره کښې مصرفیدله، په داسې حال کښې چې زمونږ افغانان له لوږې مړه کیدل. ددې بودجې مصرف زمونږ په پارسي ژبانو ورونو ښه نه لګیده او ډول ډول خبرې به یې کولې خو پښتنو ددې مصرف سره حساسیت نه درلود.

٦- د پاچا خان او دده د کورنۍ سره افغانانو ډیره مینه او محبت درلوده، هرچا به په سندرو کښې ستایه، دې چې په وزیر اکبرخان روغتون کښې ؤ ما به همیشه په پاکټ کې تازه میوې وروړې. خو کله چې دوی دا ډول تحرکات پیل کړل بیا یې له افغانانو څخه دا مینه او محبت لیرې شو.

۷- یو وخت د شیخ آباد درویش اجمل خټک ته میلمستیا کړې وه او زه هم په


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

دی کښې وم ډیر تکلف یې کړی ؤ حتی په خپل زوی یې نوم اجمل کیښود خو خلقیانو همدا درویش دده د کور په مخ کښې په ډیره بیرحمی وواژه او دده کوربی چور کړ اوس یې د کورنۍ په نورو غړو کښې لکه د نورو افغانانو غوندې دا مینه او محبت نشته، په دې میلمستیا کښې رفیع صاحب او وجدی صاحب هم وو.

## ۳- جماعت اسلامی پارټی

ددې پارټۍ (گوند) مؤسس مولانا ابوالاعلی مودودی ؤ. بیا یې مشر میاطفیل محمد او اوس قاضی حسین احمد دی. دوی ته د افغانستان د جهاد په باب له بهر څخه خصوصاً له عربو څخه ډیر کومکونه راتلل، خو دوی یوازې د حزب اسلامی، جمعیت اسلامی، اتحاد اسلامی سیاف او څه ناڅه له مولوی خالص سره اړیکې درلودې. ځکه دوی به ویل چې دغه پورتني گوندونه اصیل مسلمانان او یا په اصطلاح بنیاد گرا دي دغو نورو ته لکه محاذ ملی اسلامی، جبهه ء نجات ملی او حرکت انقلاب اسلامی ته یې د شک په سترگه کتل او حتی ځینې عقیدتی پروپاگندونه یې هم ورپسې کول. یو ژوندی مثال به زه ووایم کله چې زه په جمعیت اسلامی کښې وم دوی به څه ناڅه مرسته راسره کوله خو کله چې محاذ ملی اسلامی ته ولاړم بیا یې په هماغه پخوانۍ سترگه نه راته کتل.



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ښايي ځرګنده کړو چې جنرال ضياء الحق دوی ته په اسلامي مناسباتو او خصوصاً د افغانستان په موضوع کښې پوره واک ورکړی ؤ. هغه وخت به تل د نشنل پارټي او جماعت اسلامي ځيني تصادمونه په اخبارونو کښې راتلل او کله کله به يې جګړې هم پيښيدلی. دوی به کله ناکله د اسلامي موضوعاتو په باب د لاهور په منصوره کښې کانفرانسونه او سمينارونه دائرول او هغو ته به يې يوازې او يوازې اخواني ګوندونه ورغوښتل او انعامونه به يې هم ورکول.

ددوی عقيدتي طرز فکر اهل حديث او يا سلفيانو (پنج پيريانو) ته ورته دی، طريقت ته عقيده نلري او خپل نظر همداسې ښکاره کوي، د جمعيت اسلامي، حزب اسلامي او اتحاد اسلامي د مشرانو هم همدغه عقيده ده خو دوی د افغانستان د عوامو څخه خپله عقيده پټوي او په اصطلاح (تقيه) کوي.

جماعت اسلامي د افغانستان د جهاد په باب داسې نظر لري چې يوازې د جمعيت اسلامي، حزب اسلامي او اتحاد اسلامي جهاد ته جهاد وايي او دا نورو ته نه، په داسې حال کښې چې همدا اوس همدا بنياد ګرا يو بل وژني د کمونيستانو سره ائتلاف کوي او داسې نور...

جماعت اسلامي به چې کنفرانسونه جوړول يا به يې نورې غونډې کولې يوازې همدا درې ګوندونه به يې ورغوښتل او ددوی په ګټه به يې شعارونه ورکول او ددوی سره به يې مادي مرستې کولې. دوی به د همدې دريو ګوندونو په نمايندګۍ بهر ته تلل او کومکونه به يې راغونډول چې په دې اساس سره يې


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

خپل گوند هم په مادي لحاظ تقويه کړ.

کله چې طالبانو ظهور وکړ او لومړى يې د حزب اسلامي سره مقابله پيل شوه، جماعت اسلامي خصوصاً قاضي حسين احمد يې زيات مخالفت وکړ او دوى يې دامريکـى خلک ويلل، په داسى حال کې چې د پاکستان ولس دوى امريکايان بولي چې په دې اساس سره د دې گوند محبوبيت په افغاني جامعه کښې بيخى کم شو ځکه چې طالبان د ملت په ملاتړ را پاڅيدل او په هر ځاى کښې هر کلى ور ته وويل شو يوازې په شمال کښې د ستونزو سره مخامخ شول.

## ٤- جمعيت العلماء:

د دې گوند مؤسس مولانا مفتي محمود دى چې ډير ښه عالم او با تقوا شخص ؤ. دى ډلې تل د افغانستان د جهاد ملاتړ کړى دى او په مختلفو وختونو کښې يې کومکونه ور سره کړى دى، بيا کله چې د دى وفات شو همدا راز مولانا فضل الرحمن او مولانا سميع الحق په غونډو او کنفرانسونو کښې د افغاني جهاد ملاتړ کړى په داسى حال کښې چې د دوى سره د جماعت اسلامي غوندې امکانات هم نه وو او نه د هغه وخت حکومت (جنرال ضياء الحق) د دې کار زمينه ور ته برابر کړى وه، له دې کبله چې د دې گوند غړى زياتره ملايان او طالبان دي نو په دې اساس سره يې د حرکت انقلاب اسلامي (محمدى) سره يو



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

څه خواخوږي زيات نه وه او حتی ويل کيږي چې دا ګوند همدوی په پښو ودراوه.

بيا کله چې طالبانو ظهور وکړ دوی يې په ښکاره توګه ملاتړ اعلان کړ خپل طالبان يې د کومک د پاره ورولېږل او په ځان او مال سره يې ملاتړ ورسره وکړ.

دا ګوند نسبت جماعت اسلامی ته په پاکستان کښې زيات محبوبيت لري ځکه چې زياتره مدرسی په دوی پوري اړه لري، اماما ن او طالبان يې په دوی پوري متعلق دي او مذهب يې هم امام ابوحنيفه دی چې د پاکستان ټول مسلمانان حنفي مذهبي دي.

## دمرو د جهاد په باب د پاکستان د ولس عکس العمل:

لکه چې د مخه مو وويل چې زمرو د جهاد په باب نظريات زياتره د پارټيو تابع وو او په دې باب هري پارټی (ګوند) بيلي بيلي نظريې او اهداف درلودل، خو خبره دا ده چې د مشرانو تبليغاتو په دی مورد کښې زيات اثر درلود د مثال په توګه د صوبه سرحد پښتنو کې پاچاخان او د ده زوی وليخان زيات اثر او رسوخ لري او ددوی خبره منله کيږي دوی طبعاً د جهاد مخالف وو ځکه چې خپل سياسی اهداف يې له لاسه ورکول. همدا راز په بلوچستان کښې زياتره پښتانه د محمود اچکزی د نظرياتو ملاتړ کوی او دی هم له يوې خوا د کابل د کمونيستی حکومتونو پلوی ؤ او له بلې خوا يې په مهاجرو پښتنو



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

زیاتره زړه سوی درلود اوپه بلوچستان کښې یو بل ته گټور واقع شوی دی.
محمود اچکزی د نجیب د حکومت زیاته پلوی کوی او ویل کیږی چې هغه هم
دیری مرستی ورسره کړی دی. چې بیا نو دی طبعاً دا احسان نشی هیرولی.

د پنجاب خلک داسی په بی تفاوتی کښې وو په دی دول چې هغوی
ټولو پښتنو ته په یوه سترگه گوری. او د اټک څخه را دیخوا ټول پښتانه لکه د
یوه هیواد داسی گڼی خو بیا هم له دی کبله چې هلته نوازشریف زیات اثر لری
هغوی هم د افغانستان د جهاد طرفداری کوی.

د سند خلک زیاتره د ذوالفقار علی بوټو، بی نظیربوټو او نصرت بوټو د
عقایدو او افکارو تابع دی. له دی کبله چې ذوالفقار علی بوټو د جنرال ضیاء
الحق له خوا اعدام شوی ؤ دوی افغانی جهاد ته هم په هغه پوری تړاو ورکاوه او
په هغه وخت کښې یی نظریات منفی وو او کله چې بیا بینظیربوټو قدرت ته
ورسیده افغان مسئلی جهانی شکل غوره کړ. دا هم مجبوره وه چې څه ناڅه دا
خیالات په نظر کښې وساتی.

## په صوبه سرحد کښې تخریبی عملیات:

ددی د پاره چې په صوبه صرحد کښې د افغان مهاجرو او ددی ځای د
اوسیدونکو ترمنځ روابط خړ پړ شي، نو د (روسانو او خلقیانو پرچمیانو)
پروگرام دا ؤ چې تخریبی عملیات په پیښور کښې پیل کړی. دوی به بموته


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

راوړل او دلته به يې په هوټلونو او مزدحمو ځايونو کښې ايښودل چې په دی سبب سره د دی ځای زيات خلک په تلف باندی ورسيدل.

کله چې به بم وچاود نو د ځايي خلکو له خوا به مظاهری وشوی او ويل به يې چې دا بمونه افغان مهاجرو راوړی او دلته دا ډول تخريبکاری کوی. خو حقيقت دا دی چې دا بمونه به افغاني کمونيستانو هم راوړل او د دی ځای اوسيدونکو هم راوړل. حتی د دی ځای چادری دارو ښځو هم راوړی او گرفتاری شوی دی. د يوی پارټي يو د مهم غړی چې په سکوتر کښې بم ايښودی ؤ په لاره کښې وچاود او دا شخص پخپله هلاک شو.

* د قمرالدين گړی په چاودنه کښې زياتره د پيښور د خلکو اولادونه چې له ښوونځی څخه راروان وو قرباني شول. دا بمونه زياتره د ببرک کارمل او نجيب په وخت کښې راوړل کيدل او دلته به يې خلک قرباني کيدل. عوام ملامت نه وو ځکه د دی پيښو زياتره قربانيان به همدوی وو.

* د کاشانه بدر چاودنه: دا چاودنه هم ډيره لړزونکې وه. په دی حويلی کښې د جمعيت اسلامی افغانستان فوجيان (منصبداران) اوسيدل چې يو ولس کسان په دی پيښه کښې مړه او څو نور ټپيان شول. يوه پاکستاني ښځه د خپل ميړه او اولاد سره په شهادت ورسيدل. کله چې پوليس راورسيدل هغوی وويل چې موږ دا دی په غم او ښادی کښې درسره شريک يو او دا دی مړی مو هم سره شريک دی.



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

**یادونه:** دا دری پیښې هسې د نمونې په توګه راوړل شوې او که نه نو هره ورځ به چاودنه کیده او کسان به پکښې مړه کیدل. همدا دلیل ؤ چې ځینې کسانو افغانانو ته کورونه په کرایه نه ورکول، ځینو نورو به دفترونو ته په کرایه نه ورکول او ځینو به مجردانو ته په کرایه نه ورکول.

## د پاکستان د حکومت ملاتړ:

د جنرال ضیاء الحق په دوران کښې د افغان مجاهدینو او مهاجرینو سره په زیاته اندازه کومکونه کیدل، سرکاري مطبوعاتو هم ددوی په پلوی نشرات کول او پیښور او اسلام آباد راډیوګانو ددې دپاره خاص پروګرام درلود، چې په پیښور راډیو کښې زه (عبدالباري غیرت) ، والاجان وثیق، سید فضل اکبر، تاج محمد اکبر، محمد یعقوب شرافت، شامل وو. د بهر څخه هم کومکونه را روان وو چې د امریکې، آلمان، فرانسې، انګلستان، سعودي عرب، کویت، قطر، امارات او مصر مرستې د یادولو وړ دي.

## مثبت تبلیغات:

دا چې پاکستان د موږ ملاتړ کاوه د خلکو مثبت نظریات داسې وو:

* پاکستان یو اسلامي هیواد پرې فرض دي چې د افغانانو ملاتړ وکړي.
* په ګاونډ کښې پروت دی که روس افغانستان قبضه کړي نو پاکستان په


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

آساني سره قبضه کولی شي.

* د افغان جهاد په لاره کښې په پاکستان زيات اقتصادي بوج پروت دی.

په دې باب د پاکستان حکومت د خپل ولس فشار هم تحمل کوي.

* پاکستان غواړي چې په افغانستان کښې صلح او امنيت راشي ځکه دا کار دده په ګټه دی.

* پاکستان غواړي چې د افغانستان سره د وروري په فضا کې ژوند وکړي.

* پاکستان اسلامي ملکونو ته ښيي چې دا کارونه د اسلامي ورورولۍ په بنا کوي.

## منفي تبليغات:

* هغه پيسې چې افغان جهاد ته او يا مهاجرو ته راځي زياته برخه يې پاکستان په جيب کې اچوي.

* نوی مالونه په خپلو زړو مالونو بدلوي او بيا يې افغانانو ته ورکوي.

* د پاکستان اقتصاد د مهاجرو په کومکونو ښه شو.

* د مړو خلکو ژوند ورسره ښه شو او خواران نورهم در په در شول د کورونو کرايې لوړې شوې او په غريبانو کار ودريد.

* د خوراکي ځيزونو ګراني ورسره راغله او زياتره خوراکي مواد افغانستان ته ځي.



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

* پاکستان په افغانستان کښې تخریبي عملیات کوی ښکلی مانی، کانالونه، د اوبو بندونه او سیلو ګانی له منځه وړی.
* پاکستان د ځینو مزدور و احزابو په واسطه افغانی مهم شخصیتونه ترور کوی.
* پاکستان غواړی چې په هر لحاظ افغانستان ځان ته اړ کړی.
* پاکستان غواړی چې جنګونه دوام وکړی او افغانی عسکری قوت ختم شی.

## د کمونیستی او اسلامی احزابو مشران

### ۱- نورمحمد تره کي:

د مقر د ناوی په سره کلی کښې زیږیدلی د ویښ ځلمیانو یو منځنی غړی ؤ، په بمبئ کښې د عبدالحمید زابلی لوی سرمایدار کاتب ؤ بیا په واشنګټن کښې سیاسی آتشه شو، بیا د خلق د ګوند مشر شو. په پښتو ژبه یی خبری کولی او په دی باب یو متعصب انسان ؤ د اسلام سره یی په ډاګه دشمنی درلوده، دده د جمهوریت په دوران کښې ډیر مسلمانان شهیدان شول. د جداولو هزارګانو قتل عام کړل، د ځان په ستاینه خوښیده.

PROPERTY ACKU 7856

Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## ۲– حفیظ الله امین:

د پغمان د ولسوالۍ ؤ په معارف کښې یې مختلفې دندې ترسره کړې د شورا وکیل ؤ، مغرور او ظالم انسان ؤ، دده په امر سره زیاتره افغانان شهیدان شول. د قدرت په وخت کښې یې مصئونیت قانونیت، عدالت اعلان کړل خو عملي یې نکړل، خپل ظلمونه یې په تره کي وروتپل او څه وخت یې لږ نرمه رویه غوره کړه. روسان یې د مجاهدینو په مقابل کښې هیواد ته وروغوښتل او بیا همدې روسانو مړ کړ. خپل تحصیلات یې په امریکې کښې کړي وو، د خلق د گوند مهم غړی ؤ.

## ۳– ببرک کارمل:

د بگرامیو ولسوالۍ د کمریو د کلي ؤ، په حقوقو کښې یې زده کړه کړې بیا څه موده بندي شو، د شورا وکیل ؤ، وینا یې ډیره جذابه وه او خلک پرې غولیدل، ظالم، مغرور او احساساتي انسان ؤ، دده په جمهوریت کښې جنگونه پراخه شول، په سنگرونو او کلیو یې گازونه وشیندل، د تره کي او امین د وخت بندیان یې خوشې کړل، د روسانو په ستاینه نه مړیده د پرچم د گوند مشر ؤ، په اول کښې یې زیاتره اړیکې د سردار داؤد سره وې.

JA



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## ٤- ډاکتر نجیب:

ډاکتر نجیب په قام احمدزی ؤ ده څه تحصیلات په پیښور اسلامیه کالج کښې کوم وخت چې پلار یې تجارتي آتشه ؤ کړی او بیا یې د طب په شق کښې د کابل پوهنتون د طب پوهنځي لوستي دي، دی له سروري وروسته د کمونیستانو په دور کښې د خاد (استخبارات) رئیس ؤ.

سروري چې اوس د مسعود سره په جیل کښې دی د اکسا (خاد) د قاتل په نامه یادیده او په زرگونو کسان یې له خاورو لاندې کړل خو کله چې نجیب د خاد رئیس ؤ د بندیانو محاکمه به یې کوله او بیا به یې له فیصلې وروسته اعدامول. که څه هم دده په وخت کښې هم ډیر کسان د همدې شبکې له خوا له مینځه ولاړل.

کله چې نوموړی جمهور رئیس شو نو بیا یې له پخوا څخه په کلي ډول تغییر وکړ، ملي پخلاینه یې اعلان کړه، دیموکراسي یې راوسته او د ملگرو ملتو سره د سولې د راتلو په غرض له مقام څخه هم تیر شو، د شمال د کودتا په وخت کښې یې ملگرو ملتو ته پناه یوړه او بیا کله چې طالبانو حکومت ونیو دی یې د خپل ورور (احمدزی) سره د آریانا په چوک کې اعدام کړ.

## ٥- صبغت الله مجددی:

صبغت الله مجددي د محمد معصوم مجددي (میان جان آغا) زوی او د شمس المشائخ حضرت فضل محمد مجددي لمسی دی چې بابا یې د انگریزانو


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

شخصه د استقلال په حاصلولو کښې پوره ونډه درلوده. صبغت الله مجددي د محمد ظاهرشاه د حکومت په ضد هم قیام کړی ؤ او ځینې اسلامي تنقیدونه یې درلودل چې بیا د صدراعظم محمد داؤد له خوا څلور کاله او څو میاشتې بندي شو. کله چې د خلقیانو کودتا وشوه، دی له دغه ارک شخصه چې هلته د ملک فیصل د دعوت او تبلیغ نماینده ؤ راغی او د جبهه نجات ملي اسلامي په نامه یې گوند جوړ شو. نوموړی ښه جید عالم او مقرر دی خو تر احساساتو لاندې زیات راغی او د اوس زمانې د خلکو د چل او فریب شخصه هم مصئون نه دی پاتې شوی. کله چې د نجیب حکومت سقوط وکړ دی لومړی جمهور رئیس ؤ چې په همدې وخت کښې د گوندونو له خوا جنگونه پیل شول او افغانستان یې د تباهۍ لور ته سوق کړ، دی د ۷۰ کلونو په شا او خوا کښې دی او اوس هم د صلحې په پروسه کښې هلې ځلې کوي.

## ٦- برهان الدین رباني:

برهان الدین رباني د ملا محمد یوسف زوی او د بدخشان د ولایت دی. په قام باندې یفتلي دی. کله چې په ۱۳۵۳ ش کال باندې سردار محمد داؤد د خپل جمهوریت په دوران کښې د مسلمانو رهبرانو نیولې پیل کړل، دی پاکستان ته را وتښتید، دی د داؤد په وخت کښې د وسله وال قیام پلوی نه ؤ او کله چې خلقیان په اقتدار راغلل وسله وال جهاد یې پیل کړ. دده گوند د



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

جمعیت اسلامی په نامه ؤ، دی د خلکو سره ډیر ښه برخورد کوی، غصه ناک او قهرجن سړی نه دی، له صبغت الله مجددی وروسته چې کله دی جمهور رئیس شو نو خپله د جمهوری ریاست دوره یې په بی قانونه توګه اوږده کړه، قلابی لویه جرګه یې راوغوښته چې په هغه کې هم ټول دده کسان وو. دی کار د انجیر ګلبدین حکمتیار د غصی لمبی یې نوری هم غړ غړ اندی کړی او سملاسی یې په کابل باندی د اوریل امر وکړ. چې دا دی د همدی حملو له امله کابل په ویرانه بدل شو. استاذ ربانی د ٦٠ کلونو په شاوخوا کښې عمر لری، دازهر فارغ او د شرعیاتو پوهنځی استاذ ؤ.

## ۷- ګلبدین حکمتیار:

ګلبدین حکمتیار د عبدالقادر خان زوی په قام خروټی او د کندز د ولایت اوسیدونکی دی. کله چې نهضت جوانان مسلمان په ۱۳۴۷ هش کال کښې د علی آباد د باغ په کانتین کښې تأسیس شو دی یو منځنی غړی ؤ. چې بیا وروسته یې رشد وکړ، دی په کارونو کښې ډیر احساساتی دی لومړی یې په ولسونو کښې زیات محبوبیت او اثر درلود خو بیا وروسته په تیره کله چې کابل یې د خاورو سره سم کړ محبوبیت یې د لاسه ورکړ، د طالبانو د ظهور سره د ده د ګوند کمپله تقریباً له ټولو ځایونو څخه ټوله شوه. لومړی یې د ګلم جم ملیشو سره جهاد اعلان کړ، بیا ورسره یو ځای شو او د ربانی او مسعود په ضد


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

یې موقف ونیو. بیا د رباني د نامشروع حکومت صدراعظم شو چې له دوو میاشتو زیات یې دوام ونکړ او کابل طالبانو ونیو. دی اوس په ایران کښې اوسیږي. دده عمر د پنځوسو کلو په شا او خوا کښې دی. یاده دې وي چې د کابل د ننوتو په لومړیو وختو کښې یې د حزب وحدت سره هم جنګ شروع کړ او بیا ورسره یو ځای شو.

## ۸- مولوي محمد نبي محمدي:

مولوي محمد نبي محمدي د لوګر د ولایت او ډیر جید عالم او مقرر شخص دی. معتدل مزاج لري او حالات په غور سره څیړي، دده ګوند د حرکت انقلاب اسلامي په نامه دی چې زیاتره طالبان او مولویان پکښې برخه لري. که څه هم په لومړیو وختو کښې یې په تنظیم کښې څه اختلاف راغی خو دده په درایت او پوهې سره بیرته سره متحد شول. دده ګوند په عام ولس کښې محبوبیت لري او ښایسته ښه جهاد یې هم کړی دی.

دی د ولسي جرګې وکیل هم ؤ چې هلته یې هم د اسلامي فکر د پاره زیات خدمتونه کړي، ان تر دې چې په غیر اسلامي حرکاتو یې ببرک او اناهیتا وډبول. دده عمر د اتیا په شا او خوا کښې دی.

## ۹- مولوي محمد یونس خالص:

مولوي خالص ډیر ښه جید عالم او لیکوال دی. په مطبوعاتو کښې یې ډیر کار کړی او ډیر آثار لري، دیني ملغلري دده مهم اثر دی. همدا راز دې په



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

دارالعلوم عربی کښې استاذ هم ؤ. ده د اسلامي مبارزې په ترڅ کښې هغه وخت چې په مطبوعاتو کښې ؤ د وخت د واکدارانو سره يې ډيرې ډغرې وهلې دی. په جهاد کښې د اول څخه برخه وال ؤ، زيات وخت به يې هم په سنگرونو کښې تيراوه. دده عمر د اتيا کالو په حدود کښې دی.

## ۱۰- عبدالرسول سياف:

سياف د پغمان اوسيدونکی دی، شرعيات يې ويلي او بيا له ازهر څخه فارغ شوی دی د اسلامي نهضت د مؤسس استاذ غلام محمد نيازی شاگرد او مخلص ملگری ؤ، په ۱۳۵۳ کال کښې د داؤد په وخت کښې کله چې امريکې ته روان ؤ ونيول شو او بندی شو.

بيا د ببرک کارمل په وخت کښې راخوشې شو، دلته مجاهدين او مشران ډير ورته خوشاله شول، دوی ويل چې زمونږ د نفاق او بې اتفاقۍ اور به همدا شخص مړ کړي له همدې کبله يې دلومړي اتحاد اسلامي رئيس وټاکه، خو ده نه يوازې چې دا اور مړ نکړ بلکه يو بل گوند يې د اتحاد اسلامي په نامه جوړ کړ چې نيم کسان يې د جمعيت وو نيم کسان يې د حزب اسلامي څخه ورته راوبلل او څه نور يې له نورو تنظيمونو څخه واخيستل. ښه واعظ او مقرر او په عربي ژبه کښې پوره تسلط لري. د استاد سياف عمر د پنځوسو په شا او خوا کښې دی.



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

**نوټ:** د افغانستان په ویرانی کښې که څه هم د خلقیانو پر چمیانو او روسانو نیغ په نیغه لاس دی او دوی ښایی د دی پیړی اصلی مجرمین یاد شی خو اسلامی مشرانو هم له اخلاص څخه کار نه دی اخستی خپلی ژمنی یی نه دی عملی کړی، د مکی شریفی سوگندونه د طائف ، اسلام آباد ، پنډی او نوری معاهدی یی تر پښو لاندې کړی، د جهاد مالونه یی شخصی دارایی گرځولی او مزی پری کوی، ځینی بیا حیله هم ورته پیدا کوی، خو د غه اسلامی مشران په مسؤلیت کښې سره توپیر لری، څوک لږ مسؤل دی او څوک ډیر خو تبرئه کیدای نشی، او کله چې واقعی اسلامی حکومت راشی دوی د ملت په وړاندی پوښتیدلی شی. او که نه په محشر کښې خو به باری تعالی خامخا حساب ورسره کوی.

## د لری او بری پښتونخواه رواجونه:

* د ښځو ډیر احترام کوی، په ادب ورسره خبری کوی په موټر کښې ځای ورکوی. په داسی حال کښې چې په کابل کښې له آزادی وروسته حالات گډوډ وو، نارینه او ښځی به په بسونو کښې گډوډ ولاړوو.
* د مشرانو احترام کوی، په موټر کښې خپل ځای ورکوی او ډیر ادب یی کوی.
* دملا ، صوفی او شیخ ډیر احترام کوی په درانه نامه یی یادوی په داسی حال کښې چې په کابل کښې یی ملنډی پری وهلی.


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

* په خبرو کښې ډېر تونددي ځینې ځیزونه لکه شرمګا ه بول او غائط په صراحت سره یادوي، که څه هم زموږ ځینې اطرافونه هم همداسې دي.
* په کابل کښې په رسمي دفترونو کښې ادب او قانون زیات مراعات کیږي، دلته یو مامور له ځان سره مېز هم وړلی شي چې دا ما په سترګو ولیدل.
* د ښځو نوم نه یادوي که څه هم دا د عامو پښتنو رواج دی.
* چې د ډوډې په وخت کښې ورشي پوښتنه کوي چې آیا ډوډۍ دې خوړلې په داسې حال کښې چې په کابل کښې ډوډۍ ورته راوړي، که یې خوړلې وي بیا یې بیرته وړي.
* په خیرات او واده کښې کارت نه ګوري بلکه هرڅوک ورتلی شي. په کابل کښې کارتونه کتلی شي، خو اطراف بیا داسې نه دي.
* د زوم په غاړه کښې د پیسو امیل اچوي، په کابل کښې د ګلونو امیل اچوي.
* په فاتحه کښې یوازې لاس پورته کیږي په افغانستان کښې قرائت لوستل کیږي او بیا دعاء کیږي.
* فاتحه د کورونو په مخ کښې په کټونو کیږي. په افغانستان کښې فاتحه په جوماتونو کښې کیږي. په اطراف کښې په کورونو او د جومات په مخه کښې هم کیږي.
* په واسطه او رشوت فخر کوي، مثلاً وایې چې غټه واسطه (سپارش) مې


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

کړی ځکه کامیاب شوم. په افغانستان کې بیا دا په پټه کوي او وایي نه .

* په کابل کښې کرتی او دلته واسکټ اغوندي، یالاپوش دلته نشته.

* په کابل کښې زیاتره بوټان او دلته څپلې پښو کیږی.

یادونه: دا څیزونه چې می ولیکل دا یوازې د کابل او شا خوا په رواجونو اړیکي لري او د نورو ولایاتو په رواجوتو خبر نه یم همدا راز د پیښور رواجونه هم په ټول پاکستان نه تطبیقیږی.

* وریجې په میلمستیاگانو او خیراتو تو کښې ډیری غوړی او رنگه پخوی، وچه خرما هم ورسره پخوی، په کابل کښې د خرما په ځای ممیز کله کله پخوی. خو د کابل آشپزی ډیره ښه خوندوره ده. اوس د پیښور خلک اکثراً افغانان آشپزان نیسی.

* ډوډی هم د دی ځای د کابل غوندی نه ده د کابل وچه ډوډی ډیره خوندوره ده، کابلی ډوډی اوږده ده او اوزبکی بیا گرده وی.

* گندنه دلته چا نه پیژندله، کله چې افغانانو وکرله او یې خوړله دوی به ویل چې کابلیان وابښه خوری اوس یې دوی هم په مزه خوری او کابلی ساگ ورته وایی.

* ددی ځای شلغمی (تیپری) سپینی دی او د کابل غټې او سری دی.

* ددی ځای کچالو (آلو) سره دی او د کابل کچالو زیړ دی.

* په کیک کښې توپیر نشته خو د کابل کلچې مزه ناکې دی.

* ددی ځای خلک بغلاوه نه پیژنی یو ډول کلچې ... ی.


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

* دلته چارمغزی ککو والا کیک نه پخیږي.
* دلته د مندکو چکیده نشته بلکه د مونګ پلیو چکیده شته.
* دلته د وریجو د اوړو نه ډبلی کلچی نه پخیږي.
* دلته حلوای سوانګ او حلوای مغزی نشته.
* دلته مکرونی والا د شیدو پرینی شته او په کابل کښې نشته او د قیر په نامه پیرینی هم شته.
* دلته ماغوت او ډول ډول پرینی نشته په کابل کښې شته.
* دلته ګیلاس او سرکی (آلو بالو) نشته او په کابل کې شته.
* کله چې د لومړی ځل د پاره آلوبالو دلته راغلل خلکو د ګور ګورو په نامه ویلل.
* دلته چکه نشته او په کابل کښې شته اوس دلته هم چکه جوړیږی. دلته خلک ماستی ته چکه وایي.
* ددی ځای کاهو واړه دی او په سلاد کښې استعمالیږی خو د کابل ډیر غټ او هر وخت خوړل کیږی.
* کابل کښې د ځنباک د پاره اوبه په ګیلاسونو کښې خرڅیږی او په پیسو کښې اوبه خوشی ورکول کیږی. خو اوس چې مهاجر راغلی اوبه حال یی دی ددوی اولادونه دلته هم اوبه په پیسو خرڅوی.


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

## د مهاجرو د راتګ سره ځینې تحولات

دلته پاکستان کښې د مهاجرو د راتګ سره ډیر غټ بدلونونه راغلل د مهاجرو کمپونه جوړ شول. په ښارونو کښې ګڼه ګوڼه زیاته شوه او په تیره په صوبه سرحد او بلوچستان کښې یې زیات اثر واچاوه. زه یو څو څیزونو ته اشاره کوم.

۱- د مهاجرو سره ددې ځای خلکو حساسیت ښودلی او ویل به یې چې دا زمونږ په اقتصاد بد اثر اچوي، قیمتي جوړوي خوراکي څیزونه ورسره ګرانیږي، د کورونو کرایې لوړیږي زمونږ د ولس خلک بیکاره کیږي، چې بیا همداسې وشول. خو اوس دا حساسیت کم شوی دی بلکه د مهاجرو او ددې ځای د هستوګنې کوم توپیر نشته خصوصاً په کوټه کښې یې خپل ورونه ګڼي.

۲- پخوا افغانان د پولیسو له خوا زیات ځورول کیدل، پیسې ترې اخیستل کیدې، بندي کیدل او دا رویه زیاته د پارسي ژبو او ازبکانو سره کیده اوس هم کله کله دا چال چلند کیږي.

۳- پخوا به د بورډ تهکال او اشنغري په لین واګونونه (ویګن) موټر چلیدل، بیا د افغانانو د راتګ سره او په تیره د زیاتې ګڼه ګوڼې سره ډبې او میني بسونه رواج شول خو په اول کښې ددې ځای پښتانه پکښې نه تلل او په خپلو واګونو کښې په سپریدل، خو اوس ددې ځای خلکو هم دا ګاډي په کار اچولي دي.

۴- د مهاجرو د راتګ سره په پیښور کښې په تعمیراتي لحاظ ډیر بدلون



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

راغلي دی، سړکونه پراخه شول، بلډنگونه جوړ شول، حيات آباد يوه سپيره دښته وه او اوس هغه قيمتي او عصري ځای حيات آباد ياديږي چې د کورونو کرايه هم تر نورو ځايو دلته گرانه ده.

۵- پيښور ښار پراخوالی پيدا کړ او له بورډ څخه تر جم پوري آبادي جوړه شوه، کارخانې ډير مهم او عصري بلډنگونه لري چې د ټولې دنيا مالونه هلته پيدا کيږي، او زياتره افغانان پکښې تجارت کوي.

٦- د صحافت په لحاظ پښتو اخبارونه دلته رواج شول، پخوا به ددې ځای خلکو انگريزي او اردو اخبارونه لوستل او اوس يې د پښتو اخبارونو سره دلچسپي پيدا کړه.

د مهاجرو گوندونو اخبارونه په پښتو او پارسي چاپيږي، کتابونه او رسالې نشريږي او د پيښور (وحدت) اخبار د محترم پير سپيد شاه په همکاري او زحمت دلته رائج او خپور شو او اوس (سهار) اخبار هم چاپيږي چې دا دواړه اخبارونه د لرو او برو پښتنو د پاره دي.

۷- خارجي لويې لويې مؤسسې دلته د افغانانو د پاره کار کوي څوک خوراکي څيزونه ورته برابروي څوک تعليمي مواد ورته برابري او څوک نوري مرستې کوي.

## پښتونه تا ته وايم!

زه نه پوهيږم په دې زمکه کښې څه تأثير دی، ددې زمکې خلک بدل دي



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

او که دا زمکه بدله ښکاري.

موږ چې د جهاد په اولو شيبو کښې دې زمکې ته راغلو هيله مو درلوده چې د دې زمکې خلک به موږ ډير ښه استقبال کړي، مګر متأسفانه دې خلکو بد بد راته وکتل او ويل يې: دا غله دي، دا داړه ماران دي دا تښتيدلي خلک دي. دوی د قانون او قانوني حکومت څخه را تښتيدلي دي، موږ به ويل: هلته په زرګونو خلک له کورونو څخه وايستل شول، او په دستجمعي قبرونو کښې خښ شول، هلته ظلم دئ، ناروا ده او د دين او وطن په خلاف د څو تنو کمونيستانو سخته کار روائي ده، خو دوی به ويل: دا د امريکې تبليغات دي، دا اسلامي جهاد نه دی دا د امريکې او روس جنګ دی. موږ به ويل: دا جنګ هرڅوک د خپلې آييني څخه تعبيروي، موږ ته اسلامي جهاد دی، روس او امريکې ته د دوی جنګ دی، اروپا ته د کمونيزم او ديموکراسي جګړه ده او نورو هيوادو ته د روس پراختيا غوښتنه ده.

ما به چې په کومه مشاعره کښې د دې زمکې د خلکو سره ګډون وکړ، خپل دردونه به مې ورته بيانول خو په څلويښتو کسانو کښې مې دری ملګري درلودل او بس. په ځينو کسانو به زما شعرونه ډير بد لګيدل او همالته به يې ځواب راکړ، ځينو به ويل چې مهاجر شوی، وطن يې پريښودی، پرديس دی، مه تري خپه کيږي. خو اوس چې حالات بدل شول دوی هماغه پخواني خبره تکراروي خو زه وايم چې اوس هم د حق او باطل جګړه ده خو شکلونه يې له پخوا څخه توپير لري. اوس هم د افغانستان خلک مظلومان او مقتولان دي خو په بل


Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

شکل. اوس هم وطن ورانیږي.

لږ سوچ پکار دی او د تعصباتو څخه ډډه کول. شخصي فکرونه او نظریات وطن تباه کوي، ملي او جهاني فکرونه انساني دنیا جوړوي او بس.

PROPERTY OF ACKU
7856



Ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library

ARIC
B
4.382
GHA
7856.

# تر آسمانه رسی

اسویلو توندی سیلی یې تر جهانه رسی:
ددی مظلوم ملت فریاد تر کهکشانه رسی

سکون یې نشته په کرسی هیڅ قناعت نلری
د بوالهوسو هوسونه تر آسمانه رسی

که بې وسلی دی دا ولس بی ارادی خو نه دی
لاس به یې خدای د بدمستو تر گریوانه رسی

دښتی میرې یې کړی خړوبی لا به نور څه کوی
چه یې د اوښکو سیلابونه تر ایرانه رسی

سوز او گداز یې هندوکش او سپین غر ولړزول
فریاد ژړا به یې تر هند او پاکستانه رسی

د کمونیستو له زخمونو لاجوړ شوی نه دی
چه مسلمان ته بدرنگی له مسلمانه رسی

د تقدس په نظرو گوری مظلوم ولس ته
نه ښایی دا چه بی مهری له خپل جانانه رسی

چه څو سم نشی دا بی سره دا بی پښو انسانان
د غیرت کوکی به تر ټول افغانستانه رسی

Ketabton.com

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*